پوهنمل حاجی محمد نوزادی ٢٠١١/٠٨/٣٠

# د کمکی اختر د مبارکی پیغام

نیکمرغه کمکی اختر د نړۍ د ټولو مسلمانانو لخوا د یوی غوره ورځی په توګه په ډیری خوښۍ سره لمانځل کیږی خو د افغانانو لپاره بیا برسیره پر دی دا ورځ د یوه افغانی دودیز جشن په توګه هم منل شوی او کور پر کور یی لمانځی.

دا ورځ نه یواری په نوو کالیو او خوږو پتاسو سره بدرګه کیږی، بلکه له کینی او کرکی څخه د زړونو پاکول، د صمیمیت او دوستی غیږه پراخول او یو بل د زړه له کومی په غیږ کی نیول د دغی مبارکی ورځی بنسټیزه منځپانګه جوړوی.



د دغی نیکمرغی ورځی د رارسیدو په درشل کی تاسی، ستاسی درنو کورنیو، ټول زوریدلی افغان اولس او د نړۍ ټولو مسلمانانو ته د زړه له کومی مبارکی وایم. په همدی مناسبت زه هم د دغه زوریدلی اولس د یوه زوریدلی غړی په توګه پر ټولو وطنوالو باندی ږغ کوم تر څو د سولی یو غښتلی بهیر رامنځ کړی او له مخی یی د خارجی قواوو د لا نور پاته کیدو بهانه له منځه یوسی، هغه بهانه چی پر بنسټ یی د هیواد هست و نیست د اور په لمبو کی سوزی، د علم او پوهی دروازی تړلی دی او په هر ګوټ کی د وینو رودونه باداسکی وهی.

د هستی د زیږونکی او پر هر څه باندی د قادره خدایه (ج) غواړم چی د دی ورځی په راتګ سره په ټول هیواد کی د سولی یو داسی نسیم را والوزوی چی له فضا نه یی د باروتو بوی د تل لپاره له ځانه سره یوسی ترڅو هیوادوال وکړای شی یو بل ته په خوښۍ سره غیږی پرانیزی او په وطنی پاکه مینه یو بل پر مخونو مچ کړی.

پای

په بشپیره مینه !
پوهنمل حاجی محمد نوزادی


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ